# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد 	بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم 	از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com 	www.afgazad.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
|---|---|

محمد هارون خپل شعشعي

۲۱ اکتوبر ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۶۴

### ۱۳۱- قطب، قطب الاقطاب، غوث، غوث الاعظم، غوث زمان يا صاحب الزمان :

قطب، په لغت کي خورا ډيري ماناوي لري؛ خوعرفاني او تصوفي مفهوم ته نيژدې مانا يي د قوم مشر او د ژرندي په لاندني پل کي هغه اوسپنيزه ميله يا ستون ده، چي پاسنی پل يي پر شاوخوا را ګرځي . اقطاب يي د جمعي حالت دئ ۱. غوث، په لغت کي د مرستي کولو، فرياد رسولو، پناه ځای، شکايت رسوونکي او داسي نورو په ماناوو راغلئ دئ ۲ . په عرفاني او تصوفي اصطلاح قطب، قطب الاقطاب ، غوث، غوث الاعظم يا غوث زمان د هغه لوړ مقامه ولي نوم دئ، چي د حق تعالی د ټولو وليانو په سر کي ځای لري۳ . د عارفانو په باور، د قطب يا غوث زړه د الهي انوارو، باطني پوهي او پټو حقيقتوځلانده هينداره ده . د قطب مقام ته رسېدل د تصوف او عرفان معراج بلل کيږي . دوی زياتيي، د الله سبحانه و تعالی ټول دوستان د قطب يا غوث تر مشری لاندي د عرفاني ولايت ډېري ارزښتناکي چاري سرته رسيي . د عرفاني نظريو له مخي قطب، قطب الاقطاب، غوث، غوث الاعظم يا غوث زمان د الله تعالی له خواد ټولي نړی د مانوي (معنوي) او روحاني چارو د مشری او انسجام ستر رسالت په غاړه لري . د الله تعالی دا نيژدې او لوړ مقامه دوست نه يوازي په دونيا کي دانسانانو د ساتني، لاربښووني او مشری چاري پر مخ بيايي، بلکي وجود يي د ټولو کايناتو د ګرځېدو دايره او د بېلابېلو برکتو او نېکيیو سرچينه ګڼله کيږي۴ .

د اسلامي تصوف او عرفان نوميا لي لاربښود- شېخ فريدالدين عطار نېشابوري ( ۵۴۰ - ۶۱۸ هـ ق) په کايناتو کي د قطب رسالت او مقام داسي انځور کړئ دئ :

کی جهان بی قطب ماند پايدار

آسیا از قطب باشد بر قـــرار

گر نماند در زمین قطب جــهان

کی تواند گشت بی قطب آسمان

د اسلامي تصوف او عرفان تلپاته ستورى - مولانا جلال الدين بلخي رومي ( ۶۰۴ - ۶۷۲هـ ق) د قطب عرفاني مفهوم، په داسي ډګو کي را ښيي :

« قطب آن باشد که گرد خود تنـد

گــردش افــلاک گــرد او بــود

او چون عقل و خلق چون اجزای تن

بستهٔ عقل است تدبیر بـدن ۵ »

له دې نړى څخه د قطب يا غوث تر رحلت وروسته، د نقيبانو له دوى كسيزي ډلي څخه يوكس د قطب لوړ روحاني او عرفاني مقام ته لوړيږي۶ . د محمد دارا شكوه ( په ۱۰۲۴هـ ق/ ۱۶۱۵ع كي زيږيدلئ؛ او په ۱۰۶۹هـ ق/ ۱۶۵۹ع كي په ډيلي كي وژل سوئ) د « سفينة الاولياء » له مخي د امامانو له دوه كسيزي ډلي څخه يو كس د قطب يا غوث تر ټولو لوړي مرتبې ته ارتقا مومي . دده په كتاب كي د اولياوو د ليكل سوو طبقو پر بنسټ، د امامانو ډله تر نقيبانو لوړه ده .

د اسلامي عرفان پياوړي انګريز ليكوال او څيړونكي - پروفيسر ر. ا. نيكلسن ( ۱۸۶۸- ۱۹۴۵ع) د منلو عرفاني نظريو په رڼا كي د قطب د مقام او ځانګړتياوو په باب داسي كاږي : « د خداى پر خوا روان سالک په پاى كي د قطب مقام ته رسيږي، چي د كامل انسان مقام دئ . قطب د روحاني او عرفاني جهان مركز دئ . په هر ځاى او هره پوله كي اوسيدونكي ا نسانان ، له نيژدې والي او ليري والي پرته، د قطب له مقام څخه برابر واټن لري . له دې امله چي ټول مقامونه دده پرشاوخوا راګرځي؛ او له ده سره اړيكى لري؛ ځكه نو له قطب په نيژدې والي يا ليري والي كي توپير نسته . د عرفان او فنا دى لوړ مقام ته رسيدلئ قطب رسالت لري، چي د خداى پر لور د نورو اولياوو لاربنوونه وكي . قطب ددي كار دپاره يوازي له خپل خالق څخه اجازه اخلي۷ . »

پروفيسر نيكلسن، د اسلامي تصوف او عرفان د ستر لاربنود - شيخ ابوالحسن علي هجويري ( په ۴۶۵ هـ ق كي مړ) د مشهور عرفاني اثر « كشف المحجوب » په استناد زياتيي : « تر قطب كښته د اولياوو بيلابيلي ډلي او طبقي دي، چي په صعودي ډول د هغوي د مراتبو لړى اوشمېر داسي دئ : اخيار ( درې سوه كسه)، ابدال (ځلوېښت كسه)، ابرار( اووه كسه) اوتاد(څلوركسه) او نقيبان ( درې كسه) ۸ . »

زموږ عارف شاعر، علي محمد مخلص، قطب د نورو وليانو په څېر د خير البشر - حضرت محمد (ص) نور بولي :

اوليأ د حضرت نــور دي

ځيني پټ ځيني مشـــهور دي

ځيني قطب، اوتاد بـــولي

ځيني غوث، ابدال مذكور دي

د اسلامي عرفان په رمز و راز پوه عارف، علي محمد مخلص، په يوه پارسي قطعه كي دا عرفاني نظريه بيانيي، چي لوى ښتن خپلو مخلصو دوستانو ته په ژوندانه كي د بې شماره پټو رازو پر كشف او بيان سربېره، له دارالفنا څخه دارالبقا ته د هغوى د رحلت خبر هم مخكي له مخكي ښيي، چي په دې توګه له يوې خوا

د خدای د دوستانو په لاربنوونه او مشرتابه کي ځنډ او خنډ پيښ نسي؛ او له بلي خوا له دي عالَمه د خپل بېلتانه په وجه د مخلصانو زړونه خوږ نه کي :

« نه دور از خدا که ابدال و قطب را
کند آگاه ز رحلـت جزم خود پیش
که تا پندی دهند هنگام فرصت
که وقت هجر دلهـا میشود ریش[۹] »

**د نورو مالوماتو دپاره وګورئ :** نبي او ولي، ولي او ولايت، معجزه، کرامت او استدراج ، کامل شيخ، کامل پير يا کامل انسان، اکمل يا ازاد، کامل اکمل، مکمل کامل يا ازاد کامل، سرهنگان يا اخيار ، ابدال ، اوتاد ، ابرار، نقيبان .

**لمنليکونه**

۱ عميد ۳ : ۱۸۹۳؛ رزمجو ۲۳۰ .
۲ عميد ۳ : ۱۷۸۸؛ رزمجو ۲۳۰ .
۳ رزمجو ۲۳۰ ؛ دا را شکوه، سفينة الاولياء ۹.
۴ رزمجو ۲۳۰
۵ بلخی ، مثنوی معنوی ۶۹۸ .
۶ رزمجو ۲۳۰ .

7 Nicholson 164
8 Nicholson 124.

۹ مخلص، حالنامۀ بايزيد روښان ۶۱۹.

پاته لري